# په روسیه کې د مېشتو افغانانو د سراسري اتحادیې د مؤسسانوغونډه جوړه شوه

له **۱۹۹۲** م کال راوروسته په افغانستان کې د قدرت په سر د جنګونو د شدت له شامته، هغه وخته چې روسیې ته د افغانانود مهاجرت پروسه پیل شوه، دغه افغانان په ورځني ژوند کې له متعددو ستونزو او کړاونو سره مخ وو، او د مهاجرت د کړاونو له هماغه پیل څخه په دې هیله او هڅه کې وو، چې د خپلو ورځنیو ستونزو د حل په منظور د روسیې د دولت د قوانینو په چوکاټ کې یو واحد اجتماعي تشکل یا اتحادیه جوړه او رسمي راجستر کړي.

په روسیه کې مېشت افغانان، چې په ټول هویت کې د یو شان پردېس افغانیت د ماضي او مستقبل ګڼ شمیر مشترکي وجې لري، د سالمو انسانانو په حیث د ژوند له ناخوالو ناهیلي شوي نه دي او د ریښتینو افغانانو په توګه له هېواد څخه بهر د خپل منځي اړیکو، افغان پاتې کېدو، د افغاني ټولنیز ژوند دېنه او ابرو مندانه سمبال او د یو کلکتیف په تو ګه د خپلو ورځنیو مشترکو ستونزو د حل په منظور یې د یو واحد حقوقي تشکل یا اتحادیې د جوړښت او رسمي راجستر هیلي او هڅې لاتر اوسه ژوندی وې.

په همدې هدف نن د روان کال د جنوري په ۲۴ نېټه د مسکو ښار د پریزیدنت هوټل د کنفرانسونو په تالار کې په روسیه کې د مېشتو افغانانو د سراسري اتحادیې د موسسانو غونډه جوړه شوه.

په غونډه کې د روسیې په مختلفوښارونو کې د مېشتو افغانانود مختلفو ټولنو او قشرونو له درې سوه څخه زیاتو استازو ګډون کړی و.

غونډه د ورځې په یوولس بجو د قرآن مجید د مبارکو ایاتونو په تلاوت پیل شوه او ورپسې د افغانستان د اسلامي جمهوریت ملي سرود واورول شو.

ورسته برخه والو په لوړ انساني او افغاني کلتور او روښانه افکارو په نوبت سره په روسیه کې د مېشتو افغانانو د سراسري اتحادیې د جوړولو د ضرورت او څرنګوالي په باب څرګندوني وکړې. ورپسې د سراسري اتحادیې د اساسنامې د طرحې پر منځپانګه مفصلي، مدللي او جوړونکي خبرې وشوې او په پایله کې د اساسنامې طرحه د وړاندې شوو تغیراتو، زیاتونو او کمونو په پام کې نیولو سره د رایو په اتفاق تصویب شوه .

غونډې د سراسري اتحادیې په وړاندې یو شمیر اساسي وظایف وټاکل، چې لنډې کرښې یې دا دي :

- د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې په چوکاټ کې په روسیه کې د مېشتو افغانانو له مدني او ټولنیزو حقوقو څخه دفاع.
- په روسیه کې د مېشتو افغانانو په محیط کې د خپلو خلکو دکلتوري ارزښتونو ژوندي ساتل.
- په روسیه کې د اوسېدونکو افغانانو د کلتوري مرکز جوړول.
- افغانانو ته د مهارت د حقوقو، د اقامت د اسنادو، د زده کړو، کاري اسانتیاو او روغتیایي خدمتونو د تر لاسه کولو لپاره هڅې.
- په روسیه کې د لوړو زده کړو لپاره د افغاني محصلینو د تحصیلي بورسونود شمیر د زیاتولو لپاره هڅې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

- د روسيي او افغانستان تر منځ د اقتصادي، سياسي اوکلتوري اړيکو د ټينګښت لپاره هڅې.
- په افغانستان کې د بې وزلو، بې ځايه شويو، معيوبينو، او په حوادثو کې د زخميانو او شهيدانو له کورنيو سره مرسته، د مکتبونو او طبي کتنځايونو جوړول.
- د مخدره توکو پر ضد دمبارزې له دولتي ادارو او مدني ټولنو سره د هڅو شريکول .
- په مجموع کې د افغانستان او افغان ولس د ملي ګټو ساتنه او ملاتړ.

غونډې د سراسري اتحاديي د مشرتابه هيئت د رايو په اکثريت او وروسته بيا رئيس او مرستيالان په ځانګړې افغاني دود، د ټولو په اتفاق وټاکل او په په بې ساري ډول د خوشحالونکي صميميت په فضا کې د قرآن کريم د مبارکو آياتونو او دعايي په لوستلو پای ته ورسيده. له لوی ښښتن (ج) څخه دوی ټولو ته د بري توفيق غواړو.






پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ